# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غويي ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د مي پنځمه | ۷۱۸مه ګڼه


# د بهرنيو ځواکونو تګ او د جګړو شدت؛

## حکومت او طالبان په ډېرو ولايتونو کې يو بل ته د درنې مرګ‌ژوبلې اړولو ادعا کوي





د جګړې تر څنګ د نامشروع واکمنۍ پلمې هم ختمې دي
۲ مخ

روسيه چگونه می‌خواهد خود را از پیامدهای خروج آمریکا از افغانستان حفظ کند؟
۲ مخ

ايا پوهېږې چې څه مو محدودوي؟
۳ مخ


## ولسمشر غني: که د سولې پر راتګ ډاډه شم، د واک پرېښودو ته تيار يم

ولسمشر غني وايي، که ډاډه شي چې هېواد ته سوله راځي، نو تيار دی چې له واک ګوښه شي او د نوي حکومت راتګ ته لار هواره کړي. ولسمشر غني د امريکا معتبرې نشريې فارين پاليسي ته په يوه تازه ليکلې مقاله کې د افغانستان د سولې پر روان بهير او راتلونکې خبرې کړې دي. نوموړي ويلي، طالبان په افغانستان کې سولې ته رسېدل نه؛ بلکې واک ته رسېدل غواړي او له همدې امله يې تر دې دمه خپل اسلامي حکومت نه دی تعريف کړی، په داسې حال کې چې د افغانستان اوسنی حکومت او قوانين ټول اسلامي دي. ولسمشر زياته کړې که پاکستان د طالبانو له ملاتړه لاس واخلي او دی ډاډه شي چې د مذاکراتو په پايله کې به افغانستان ته سوله راځي، نو تيار دی چې له واک لرې شي او د سولې لنډمهاله حکومت ته واک پرېږدي.

د ده په خبره، د دې هر څه لپاره بايد طالبان په لومړي قدم کې دايمي اوربند وکړي، ټاکنې ومني، ولسواکي بايد حفظ شي او طالبان دې د ټولو اړخونو حقونو ته درناوی وکړي. هغه ويلي چې د اوربند او راتلونکي وضعيت څارنه او کنټرول به ملګري ملتونه او نور نړيوال بنسټونه کوي. خو ولسمشر د دې هر څه تر څنګ ټينګار کړی، چې که طالبان د سولې لار نه مني، نو د افغان ځواکونو له سختو بريدونو سره به مخ شي، ځکه د بهرنيو ځواکونو تر وتلو وروسته افغان ځواکونه پر ټولو نظامي اقداماتو بشپړ واک لري او په پرېکړو کې به مستقل وي. هغه بيا هم ټينګار کړی چې د بهرنيو ځواکونو وتل د ملي حاکميت د ساتلو او خپلواک افغانستان د جوړولو لپاره لوی فرصت دی، خو که طالبان جګړو ته ادامه ورکړي، دا فرصت به ضايع شي.

## امريکا داسې مهال خپل ځواکونه وباسي، چې طالبان او القاعده تر پخوا ډېر غښتلي شوي




۳ مخ


## کتاب


۴ مخ


### امريکا، طالبان او جګړه د افغانانو له نظره




دا کتاب د هغو کټه ګوريو په اړه دی، چې خلکو رامنځ ته کړې او باور پرې لري. دومره قوي باور او عقيده چې ځينې وخت د کلمې واقعي مانا د ژوند او مرګ پر موضوع بدلېږي.

## کرنې رياست: په ننګرهار کې د نږدې يو لک ډالرو په لګښت پروژې چارې پيل شوې



د ننګرهار د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په دغه ولايت کې د څه باندې ۹۵ زره امريکايي ډالرو په لګښت د جرنو د کيندنې چارې پيل شوې دي.
د ياد ولايت د کرنې رييس انجنير انعام الله صافی وايي، چې د خوړو خونديتوب پروژې «NCRO» په همکارۍ د دغه ولايت د بهسودو، سره رود، کوز کونړ ولسواليو او جلال آباد ښار کې د پنځه زره مترو جرونو د کيندنې چارې د بهسودو د چميار له کلي پيل شوې، چې له مخې به يې په شپږو مياشتو کې ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ هکټار هغه ځمکې، چې د اوبو له سطحې څخه ښکته دي، له ډنډونو خلاصې او کښت ته به چمتو شي.
د صافي په وينا، د دې پروژې د تطبيق پر مهال سلګونو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې او د چارو په بشپړېدو سره به څلور زره کورنۍ ترې ګټه پورته کړي.

## خليلزاد: جهان مخالف تلاش‌های طالبان برای گرفتن قدرت از راه نظامی است



زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان در دیدارهای جداگانه با مقام‌های حکومت افغانستان و سیاست گران کشور در بارهٔ ایجاد اجماع سیاسی و موفقیت مذاکرات صلح گفت‌وگو کرده‌است و تأکید ورزیده است که جهان مخالف تلاش‌های گروه طالبان برای گرفتن قدرت از راه نظامی است.
در همین حال، رئیس‌جمهور اشرف غنی می‌گوید که پس از بیرون شدن نیروهای خارجی از افغانستان، تصمیم‌های ملی را در بارهٔ افغانستان، دولت و مردم افغانستان می‌گیرند و از طالبان می‌خواهد که تن به صلح بدهند در غیر آن حکومت آمادهٔ هر گونه شرایطی است.
اکنون که رهایی زندانیان طالبان یکی از بحث‌های مهم در روند صلح افغانستان است، رئیس جمهور غنی می‌گوید که تصمیم‌های ملی در داخل افغانستان و از سوی افغانان گرفته می شوند.
اشرف غنی، رئیس جمهور کشور گفت: «حالا که نیروهای خارجی می روند تصامیم ملی را مردم و دولت افغانستان می گیرند.»
از سویی هم یک مقام شورای عالی مصالحهٔ ملی که با زلمی خلیل‌زاد دیداری داشت، می‌گوید که در آن دیدار به برگزاری پیروزمندانه نشست استانبول تآکید شد. حاجی دین محمد، معاون شورای عالی مصالحه ملی گفت: «در باره موجودیت نظام تاکید می کردند و بر حفظ نیروهای امنیتی و ارتش باید حفظ شوند.» زلمی خلیل‌زاد در این سفر اش بر نیاز به ایجاد یک اجماع سیاسی همزمان با بیرون شدن نیروهای امریکایی از افغانستان تاکید کرده‌است - اجماعی که افغانستان را در مذاکرات صلح نیز در جایگاه مناسب تری قرار خواهد داد.




## سرليکنه

### د جگړې تر ځنگ د نامشروع واکمنۍ پلمې هم ختمې دي

ولسمشر غني وايي، د جگړې د دوام لپاره د طالبانو پلمې ختمې شوې دي. هغه زياته کړې ده چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي او له دې وروسته هېڅ داسې پلمه نه شته چې پر بنسټ يې طالبان د افغانانو پر وړاندې جگړې ته دوام ورکړي. ولسمشر غني ټينگار کړی چې له دې وروسته د ملي مسايلو په اړه پرېکړه د حکومت او افغانانو کار دی. ولسمشر غني يو ځل بيا پر طالبانو توندې نيوکې کړې دي او ويلي يې دي چې که چېرته افغانان وي، نو بايد د افغانانو د سولې غوښتنې ته لبيک ووايي او که نه، نو هغوی چې د پردو په امر د افغانستان بربادي غواړي، ټول ولس به يې پر وړاندې ودرېږي.

دا ځرگندونې په داسې حال کې دي چې حکومت يوازې په هلمند کې تر سلو د ډېرو طالبانو د وژلو ادعا کړې او طالبانو هم په بېلابېلو بريدونو کې د لسگونو امنيتي ځواکونو د وژلو ادعا کړې ده. په دې کې هېڅ شک نشته چې دا جگړه اوس هېڅ ډول توجيه او مشروعيت نه لري. دا جگړه يوازې د طالبانو له اړخه نه، بلکې د حکومت له اړخه هم هېڅ ډول توجيه او مشروعيت نه لري. هر لوری چې جگړه کوي او يا د جگړې خبرې کوي او يا يې دريځ جگړه‌ييز وي، د افغانستان له خلکو او د دوی له هيلو او غوښتنو سره دښمني کوي. له همدې امله دا جگړه بايد ودرېږي او په هېڅ ډول بايد دوام ونه کړي.

څه ډول چې د جگړې وخت او پلمه ختمه شوې، همدغسې د اوسني حکومت او چارواکو وخت او پلمه هم ختم شوې دي. د افغانستان خلک که له يوه اړخه د جگړې درول غواړي، له بله اړخه دا هم غواړي چې حکومت نور له دې غلو، فاسدو او نامشروع چارواکو څخه پاکو، ژمنو او مشروع چارواکو ته ولېږدول شي. نور بايد څو کسان د خپل واک د دوام لپاره د سولې مخالفت ونه کړي او پرېږدي چې د سولې پروسه بريالۍ شي، څو له يوه اړخه جگړه ختمه شي او له بله اړخه خلک وړ مشران او حکومت وټاکي. د اشرف غني په مشرۍ حکومت چې د اساسي قانون له مخې مشروعيت نه لري، د يوه مجبوريت پر اساس د ناوړه حالت او ناوړه معاملو محصول و، نو څکه بايد نوي حالت ته په کتو سره نوی او وړ حکومت رامنځ ته شي. له همدې امله پکار ده چې د جگړې له درېدو سره سم اوسني چارواکي نور واک پرېږدي او د افغانستان خلک به پرېکړه کوي، چې راتلونکي واکمنان يې څوک وي.

له بده مرغه د جگړې دواړه اړخونه څه چې وايي، هغه نه کوي. د دوی خبرې يوازې د يو او بل د ملامتۍ لپاره دي، نه د جگړې د خاتمې او سولې لپاره. واقعيت دا دی چې دوی غواړي جگړه وغځيږي څو پکې د دوی گټې خوندي شي او واک يې وغځېږي. له بده مرغه دا کار خپله اشرف غني کوي او نومړی د خلکو په سترگو کې د خاورې شيندلو پر ځای د سولې لپاره له خپله اړخه اساسي گامونه واخلي او بيا به خپله خلک قضاوت کوي، چې څوک سوله غواړي او څوک يې مخالف دي.

# روسیه چگونه می‌خواهد خود را از پیامدهای خروج آمریکا از افغانستان حفظ کند؟

**پاول آکسیونوف** - بخش روسی بی‌بی‌سی

سرگئی شویگو، وزیر دفاع روسیه، اخیراً یک سفر کوتاه به کشورهای آسیای میانه انجام داد. وی هفته گذشته از تاجیکستان دیدار و سپس به ازبکستان پرواز کرد.

این سفرها در پس‌زمینه عقب‌نشینی نیروهای آمریکایی از کشور همسایه افغانستان صورت گرفت که می‌تواند خطر تقویت طالبان و بی‌ثباتی در منطقه را به دنبال بیاورد.

در ازبکستان، وزیر دفاع روسیه برای نخستین بار برنامه مشارکت استراتژیک بین دو کشور در بخش نظامی برای سال‌های ۲۰۲۱ - ۲۰۲۵ را به مقامات آن کشور پیشنهاد کرد. در تاجیکستان آقای شویگو توافق‌نامه‌ای را در مورد ایجاد سیستم واحد دفاع هوایی امضا کرد و در جلسه شورای وزیران دفاع کشورهای سازمان پیمان امنیت جمعی شرکت کرد.

به گزارش خبرگزاری ریا نووستی روسیه، آقای شویگو هدف از سفر خود به تاجیکستان را چنین توضیح داده: «در پس زمینه وخامت اوضاع در کشور همسایه افغانستان، ما مشغول برنامه‌ریزی مقابله مشترک با تهدیدهای احتمالی هستیم و چگونگی تعامل عملی را در جریان تمرینات مورد سنجش قرار می‌دهیم.»

کارشناسان مصاحبه شده از سوی بی‌بی‌سی موافقند که روسیه از احتمال افزایش بی‌ثباتی در منطقه آسیای میانه نگران است. وخامت احتمالی اوضاع در افغانستان به این دلیل پیشبینی می‌شود که از اول ماه می ایالات متحده و ناتو شروع به بیرون آوردن نیروهای خود از این کشور کرده‌اند.

روسیه مرز مشترکی با افغانستان ندارد، اما با همسایگان افغانستان یعنی ترکمنستان، ازبکستان و تاجیکستان، روابط اقتصادی جدی دارد و تعداد زیادی از مهاجران از این کشورها به روسیه می‌روند.

یکشنبه گذشته، جنرال آمریکایی اسکات میلر، فرمانده نیروهای خارجی در افغانستان گفت که روند خروج از هم اکنون آغاز شده است. آمریکایی‌ها تحویل تجهیزات و پایگاه‌های نظامی را به ارتش افغانستان آغاز کرده‌اند. طبق توافق‌نامه‌ای که در فوریه سال ۲۰۲۰ امضا شد، ایالات متحده قرار بود ارتش خود را تا اول ماه می سال جاری به طور کامل از این کشور خارج کند، اما در نهایت، خروج آنها به ۱۱سپتامبر موکول شد.

در حال حاضر ۲۵۰۰ سرباز آمریکایی و همچنین حدود ۷۵۰۰ سرباز از کشورهای مختلف ناتو در افغانستان مستقر هستند که نو به خارج شدن از این کشور شروع کردند.

نیروهای نظامی خارجی پس از حملات ۱۱ سپتامبر وارد این کشور شدند. در دسامبر سال ۲۰۰۹، شمار نیروهای خارجی در افغانستان بالغ بر صد هزار نفر بود.

آمریکا و طالبان پس از دو دهه جنگ در یک اقدام تاریخی توافقنامه صلح امضا کردند

حضور نظامی آمریکا و متحدانش در افغانستان از سال ۲۰۱۴ رو به کاهش گذاشت. اما آمریکایی‌ها به دلایل امنیتی جرأت ترک این کشور را نداشتند، زیرا مقامات افغانستان به تنهایی نمی‌توانستند در برابر طالبان مقاومت کنند. آنها قصد داشتند توافق‌نامه‌ای را با جنبش طالبان امضا کنند، که شرایط خروج نیروها، از جمله ضمانت‌های امنیتی برای آمریکا و متحدانش، وعده شروع مذاکرات با دولت رسمی افغانستان، تبادل زندانیان و غیره را تعیین می‌کند.

توافق‌نامه‌ای که در فوریه سال ۲۰۲۰ در دوحه امضا و زمینه برای خروج نیروها شد، روند مذاکرات درباره آینده افغانستان را کلید زد. از آن زمان، آمریکا، روسیه و سایر کشورها تلاش برای ادامه گفتگو بین طالبان و مقامات افغانستان را متوقف نکرده‌اند. اما تاکنون نتایج کمی حاصل شده است: نمایندگان طالبان گاهی اوقات از حضور در جلسات خودداری می کنند و هنوز هیچ برنامه‌ای مشخص برای حل منازعات وجود ندارد.

در حالی که میانجی‌گران در تلاش بوده‌اند روند مذاکرات آغاز و ادامه یابد، هر یک از طرفین دولت افغانستان و طالبان خود را تنها مرجع قانونی در کشور می‌دانند.

چرا باید از بی ثباتی در افغانستان ترسید؟

در افغانستان نگرانی این است که پس از بیرون رفتن نیروهای آمریکا و ناتو، در این کشور بحرانی شبیه بحرانی که در سال ۱۹۹۱ پس از خروج نیروهای شوروی به میان آمد، آغاز شود.

تمیم عاصی، رئیس اجرایی انستیتوت مطالعات جنگ و صلح در کابل در صحبتی با بی‌بی‌سی گفت: «بهترین چیزی که می‌تواند اتفاق بیفتد این است که اگر مهلت تعیین شده برای خروج نیروها، عاملی باشد که طرفین را به تصمیم‌گیری سوق دهد. آنها یا تا ماه سپتامبر به توافق سیاسی برسند، یا در نهایت شبیه سناریوی سوریه درگیر یک جنگ داخلی خواهند شد.»

آندری کازانتسف، استاد دانشکده اقتصاد و سیاست‌های جهانی در پژوهشگاه عالی اقتصاد روسیه، به بی‌بی‌سی گفت که با خروج نیروهای خارجی از افغانستان، ممکن است «اثر دومینو» اتفاق بیافتد. این اصطلاح وقایع مناطق مختلف جهان در قرن بیستم را توصیف می‌کند، زمانی‌که تشکیل نظام کمونیستی در یک کشور منجر به پیدا شدن چنین نظام در سایر کشورها شد.

اما این بار «اثر دومینو» متفاوت به نظر می آید. آقای کازانتسف نه از حمله طالبان، بلکه از گسترش هرج و مرج و بی ثباتی در سراسر منطقه نگرانی دارد.

او می‌گوید: «وضعیتی مشابه در دهه ۱۹۹۰ در کشورهای همسایه افغانستان به وجود آمد. سربازان شوروی از افغانستان خارج شدند و همه چیز در آنجا فرو ریخت، در سال ۱۹۹۲رژیم [رئیس جمهور افغانستان] نجیب الله سقوط کرد، مجاهدین بین خود درگیر شدند، سپس جنگ داخلی در تاجیکستان آغاز شد، مرز تاجیکستان و افغانستان سقوط کرد و سپس این وضعیت به تدریج در سراسر منطقه گسترش پیدا کرد.»

به گفته آقای کازانتسف، طالبان یک نیروی دارای رهبری مرکزی و متحد نیستند. وی آنها را «سازمانی به عنوان چتر برای همه کسانی می‌خواند که با آمریکایی‌ها می‌جنگند. آنها به سازمانهای تروریستی بین‌المللی مانند القاعده یا اخیراً دولت اسلامی (که هر دو در بسیاری از کشورها از جمله بریتانیا و روسیه ممنوع شده‌اند) کمک کرده و می‌کنند و با گروه‌های افراطی کوچکتری که جداگانه فعالیت می‌کنند، در ارتباط هستند.»

مواضع طالبان در مناطق مختلف افغانستان متفاوت است و هرگونه تلاش برای برقراری قدرت در قلمرو تمام کشور به یک جنگ داخلی طورمثال میان قبایل پشتون و نمایندگان اقوام تاجیک، ازبک (اوزبیک) یا هزاره تبدیل خواهد شد.

آقای کازانتسف تاکید می‌کند: «این یک وضعیت بسیار جدی برای کشورهای آسیای میانه است، زیرا آنها بلافاصله تبدیل به خط مقدم می‌شوند، به دلیل اینکه تاجیکها با تاجیکستان در ارتباط هستند و تاجیکستان با روسیه و ازبکها با ازبکستان و ترکیه نیز مرتبط هستند. هزاره‌ها با ایران در ارتباط هستند. این به طور خودانگیخته زمینه بالقوه یک جنگ بزرگ منطقه‌ای است.»

همانطوری‌که در کتاب نشر شده توسط مرکز تحلیل‌های استراتژی و فن‌آوری در روسیه در سال ۲۰۲۰ به نام «متحدین» آمده، این پیروزی مجاهدین در افغانستان بود که تبدیل به کاتالیزوری شد که نزاع داخلی در تاجیکستان در اوایل دهه ۱۹۹۰ را به جنگی خونین تبدیل کرد. از طریق مرزهای تاجیکستان به این کشور اسلحه وارد می‌شد و مسیری برای پناهندگان باز شده بود. نویسندگان این کتاب این درگیری را «ضربه مادرزادی به وجود دولت تاجیکستان» نامیده‌اند.

در عین حال، خطری جدی برای این کشور از جانب دولت اسلامی وجود دارد.

در این کتاب آمده است: «در مجموع، به گفته کمیته دولتی امنیت ملی در پایان سال ۲۰۱۸، یک هزار و نهصد شبه نظامی از تاجیکستان در سوریه و عراق در داعش جنگیده‌اند، احتمالاً تنها از ازبکستان نسبت به تاجیکستان شمار شبه نظامیان بیشتر بوده است.»

چگونه روسیه سعی دارد ازبحران جلوگیری کند؟

تاجیکستان و ازبکستان برای یک دهه و نیم مراکز مهمی برای پشتیبانی از عملیات نظامی بین‌المللی در افغانستان بودند.

از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۷، جنگنده های میراژ ۲۰۰۰ دی فرانسوی و هواپیماهای سوخت رسان سی ۱۳در فرودگاه دوشنبه مستقر بودند که سپس به قندهار منتقل شدند.

بنا بر گزارش مرکز تحلیل‌های استراتژیک و فن‌آوری روسیه، تاجیکستان از سال ۲۰۰۱ تا سال ۲۰۱۹ از آمریکا کمک‌های نظامی دریافت کرده است.

با این حال، مسکو شریک اصلی امنیت دوشنبه است. پایگاه نظامی ۲۰۱ روسیه در تاجیکستان مستقر است، جایی‌که به گفته برخی منابع، بیش از شش هزار، به گفته برخی دیگر حدود سه هزار پرسنل نظامی فعال هستند.

این پایگاه شامل شماری از بالگردهای می ۲۴ و می ۸ است که در فرودگاه نظامی موسوم به عینی در نزدیکی دوشنبه مستقر شده اند.

طبق گزارش این مرکز، بخشی از تجهیزات پایگاه نظامی ۲۰۱ روسیه به ارتش تاجیکستان منتقل شده است. علاوه بر این، روسیه نفربرهای زرهی، بالگردهای رزمی، سیستم‌های توپخانه، سلاح‌های دفاع هوایی و تانک در اختیار این کشور گذاشته است. بسیاری از تجهیزات در سال‌های اخیر تحویل داده شده است. روسیه افسران ارتش تاجیکستان را در دانشگاه‌های نظامی خود و در پایگاه ۲۰۱ آموزش می‌دهد.

ازبکستان یکی از شرکای اصلی آمریکا در آسیای میانه در جریان عملیات در افغانستان بود. از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۵ ، یک پایگاه بزرگ نظامی آمریکایی «قرشی-خان آباد» در آنجا فعالیت می‌کرد، در فرودگاه نظامی آن هواپیماها و هلی‌کوپترهای حمل و نقل مستقر شده بودند. تاشکند به دلیل اختلافات سیاسی، همکاری با واشنگتن را محدود کرد. پس از آن، روسیه از این پایگاه استفاده کرد، اما روابط تاشکند با روسیه نیز دشوار بود، ازبکستان دو بار از سازمان پیمان امنیت جمعی، سازمان تحت نفوذ روسیه خارج شده و تمایلی برای بازگشت به آن نشان نداده است.

به گفته کارشناسان، اکنون روسیه در تلاش است نه تنها حضور خود در منطقه بلکه کشورهای منطقه را نیز تقویت کند.

در عین حال، روسیه نه در پی ایجاد بلوک‌های جدید اقتصادی، نظامی یا سیاسی و نه تغییر ساختار قبلی است، بلکه سعی می‌کند روابط خود با هر کدام از این کشورها را بر أساس توافق نامه‌های دو جانبه تقویت کند.

این تا حدی به این دلیل است که روابط هر یکی از کشورهای منطقه با روسیه در چهارچوب توافق‌نامه های مختلف ایجاد شده است: تاجیکستان عضو سازمان پیمان امنیت جمعی ست، اما عضو انجمن اقتصادی اوراسیا (شامل قرقیزستان و قزاقستان) نیست، ازبکستان پس از خروج از سازمان پیمان امنیت جمعی، فقط عضو اتحاد کشورهای مستقل مشترک المنافع باقی مانده است، ترکمنستان به طور کلی وضعیت عدم تعهد را حفظ می‌کند.

دلیل دیگر روابط ناسازگار بین خود این کشورها است. در تاریخ ۲۹ اپریل، پس از اتمام سفر سرگئی شویگو به منطقه، درگیری مسلحانه در مرزهای قرقیزستان و تاجیکستان رخ داد. ده ها نفر در این درگیری جان باختند.

ویکتور موراخوفسکی، کارشناس نظامی روسیه معتقد است که در حال حاضر حفظ روابط دو جانبه آسانتر از تلاش برای ساختن هرگونه بلوک است: «واقعیت های سیاست مدرن، رفتن بلوک هایی مانند پیمان ورشو یا پیمان آتلانتیک شمالی به گذشته است، با وجودی که به پابرجایی آن ها تاکید می‌شود. واقعیت امروز ایجاد طیف وسیعی از روابط دو جانبه است.»

به گفته وی، روسیه پایگاه‌های نظامی جدیدی در منطقه ایجاد نخواهد کرد یا حتی پایگاه‌های موجود را گسترش نخواهد داد؛ تاجیکستان و ازبکستان به تنهایی امنیت را تأمین می‌کنند.

او می‌گوید: «در صورت حمله مستقیم نظامی به تاجیکستان، روسیه می‌تواند از این کشور توسط نیروهای هوا فضایی، سیستم‌های با دقت بالا پشتیبانی کند، اما در زمین بر نیروهای محلی، آموزش و تجهیز آنها متمرکز خواهد بود. هیچ کس گروه‌های تاکتیکی نظامی خود را برای حمله اعزام نخواهد کرد.»

آرکادی دوبنف، محقق سیاسی و کارشناس آسیای میانه، می‌گوید نقش آمریکا در این وضعیت حفظ خواهد شد. این کشور احتمالاً سعی خواهد کرد پس از خروج از افغانستان امکانات خود برای اقدام در منطقه را حفظ کند. این کار می‌تواند به عنوان مثال توسط یک پایگاه هوایی نظامی انجام شود، که در آن می‌توان هم از وسایل هوایی سرنشین‌دار و هم هواپیماهای بدون سرنشین استفاده کرد.

به گفته آقای دوبنف، همین امر می‌تواند دلیل پیشنهاد روسیه برای امضای توافق‌نامه با تاجیکستان در مورد ایجاد سیستم واحد دفاع هوایی باشد. او می‌گوید: «من نمی‌دانم چه کسی می‌تواند به حریم هوایی تاجیکستان حتی در شرایط فعلی از افغانستان حمله کند. اما این توافق‌نامه می‌تواند حضور روسیه را در تاجیکستان تقویت کند. چرا طور مثال اس ۴۰۰ها در آن جا مستقر نشود؟»

# د بهرنيو ځواکونو تګ او د جګړو شدت؛

## حکومت او طالبان په ډېرو ولايتونو کې يو بل ته د درنې مرګژوبلې اړولو ادعا کوي



سره له دې چې بهرنيو ځواکونو له افغانستانه وتل پيل کړي دي او په ډېرى ولايتونو کې يې خپلې اډې تشې کړې دي، خو له دې سره هممهاله تاوتريخوالی ډېر شوی او طالبانو خپل بريدونه ډېر کړي دي. طالبانو د هېواد په ډېرو ولايتونو کې د افغان ځواکونو پر پوستو او قرارګاوو بريدونه کړي او مرګژوبله يې اړولې ده. افغان ځواکونو هم پر طالبانو ځوابي بريدونه کړي او دوی ته د درنې مرګژوبلې اړولو خبره کوي، په دې منځ کې ملکي وګړي هم په امن کې نه دي. په ډېرو ولايتونو کې د نښتو له امله ملکي تلفات ډېر شوي دي.

د بهرنيو ځواکونو د وتلو له اعلان سره تمه دا وه چې طالبان به تاوتريخوالی کموي او معقوله خبره هم دا وه چې دواړه لوري به مذاکراتو کې چټکتيا راولي او د هېواد د جوړولو لپاره به کار کوي؛ خو خبره برعکس ده، طالبانو په دې پلمه چې ګواکې بهرنيو ځواکونو د وتلو په برخه کې د دوحې پر هوکړه عمل نه دی کړی، پر افغان ځواکونو بريدونه ډېر کړي دي. له هلمند نيولې تر ارزګان، کابل، لوګر، جوزجان، کندوز او مزارشريف پورې طالبانو پر افغان ځواکونو بريدونه کړي دي او مرګژوبله يې اړولې ده.

په دې منځ کې هلمند هغه ولايت دی چې وضعيت پکې تر بل هر ځای کړکېچن دی. طالبانو ان د هلمند د مرکز لښکرګاه شاوخوا سيمو ته ځانونه رسولي دي او له افغان ځواکونو سره پر جګړه بوخت دي. طالبان وايي چې دوی افغان ځواکونو ته په دې جګړو کې درنه مرګژوبله اړولې ده، نظامي تجهيزات يې له منځه وړي او د دوی پوستې يې نيولې دي. په هلمند کې ځايي چارواکي هم د سختو جګړو خبر ورکوي، خو وايي چې طالبانو ته يې درانه تلفات اړولي دي.

د هلمند د ولايتي شورا رييس عطاالله افغان وايي، د طالبانو بريد کې اته افغان سرتېري وژل شوي او ۱۹ ټپيان دي. نوموړی دا هم وايي چې وسلهوالو طالبانو د حکومت لس پوستې نيولې دي. بلخوا د ملي دفاع وزارت ادعا کوي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د هلمند په مرکز لشکرګاه، نهر سراج، ناوه او ګرمسېر ولسواليو کې ۱۰۶ طالبان وژل شوي او ۳۷ نور ټپيان دي. دغه وزارت زياتوي چې د ولايتي مرکز لښکرګاه له څنډو د طالبانو د لرې کولو عمليات روان دي.

يوازې جګړې نه، په هلمند کې دغه وضعيت د ملکي وګړو پر ژوند سخت منفي اغېز کړی دی. د مرکز لښکرګاه اوسېدونکي وايي چې له شاوخوا سيمو خلکو مرکز ته را روان دي او د روژې مياشتې په دې سخته ګرمۍ کې سلګونه کورنۍ د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوې دي. د هلمند ځايي اوسېدونکي وايي چې بېځايه شوي خلک د خوړو او ځای له کمښت سره مخ دي، چې بايد بېړنۍ مرسته ورسره وشي.

له دې سره هممهاله ولسمشر غني بيا په تازه څرګندونو کې بيا هم پر طالبانو غږ کړی دی، چې له جګړو لاس په سر شي او د سولې لار خپله کړي. ولسمشر په ارګ کې په يوه غونډه کې د خبرو پر مهال ويلي چې که طالبان افغانان وي، نو بايد له افغانانو سره خبرې وکړي، خو که يې واک له بل سره وي، نو بيا به د افغان ځواکونو له لوري سخت وځپل شي.

ولسمشر همدا راز په فارين پاليسي نشريه کې په خپله يوه خپره کړې مقاله کې ويلي، چې د سولې لپاره قربانۍ ته تيار دی او په خبره يې افغان حکومت د سولې ملاتړی دی او په دې برخه کې خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. هغه ويلي که ډاډه شي چې د مذاکراتو په پايله کې افغانستان ته سوله راځي، نو دی تيار دی چې واک پرېږدي. ولسمشر همدا راز د لومړي ځل لپاره د يوه انتقالي حکومت له جوړولو سره هم توافق کړی دی. ولسمشر ويلي، د سولې حکومت بايد لنډمهاله وي او طالبان بايد ټاکنې ومني، دغه حکومت به ټاکنو ته زمينه برابروي او بيا انتخاب له افغانانو سره دی چې د خپلې راتلونکې په اړه پرېکړه وکړي.

---

## ګارډين: امريکا داسې مهال خپل ځواکونه وباسي، چې طالبان او القاعده تر پخوا ډېر غښتلي شوي



ګارډين ورځپاڼې له افغانستانه د امريکايي ځواکونو د وتلو د پايلو په اړه يو راپور خپور کړی دی. ورځپاڼې د جنرال مارک مېلي وروستۍ څرګندونې راخيستې چې ويلي يې وو، د بهرنيو ځواکونو تر وتلو وروسته ښايي افغان حکومت د طالبانو پر وړاندې له بدې پايلې سره مخ شي. ورځپاڼې ويلي، کله چې يو امريکايي جنرال په دې نظر دی، نو امريکا ته په کار ده چې بايد له افغان پوځيانو سره د اړينې مرستې له لارې د ترهګرو پر وړاندې مبارزې ته دوام ورکړي. ورځپاڼه دغه راز ليکي، امريکا په افغانستان کې شل کاله جګړه وکړه، القاعده يې وځپله، د طالبانو رژيم يې مات کړ، خو اوس بېرته دواړې ډلې خورا پياوړې دي. ورځپاڼې ټينګار کړی، که د پاکستان ملاتړ نه وای، نو د طالبانو په ګډون هېڅ ترهګرې ډلې سر نه شو پورته کولی.

ګارډين داسې مهال دغه راپور خپروي، چې په دې وروستيو ورځو کې د امريکا ولسمشر جو بايډن له افغانستانه د ټولو ځواکونو د ايستلو پرېکړه وکړه چې ورسره سم ناټو او د نورو هېوادونو له هم له افغانستان د ځواکونو د ايستلو اعلان وکړ او ټاکل شوې چې تر سپټمبر مياشتې به ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي. بلخوا ولسمشر غني وايي چې افغان حکومت تل د سولې غوښتنه کړې او د تل په څېر به په دې برخه کې خپلو هڅو او قربانيو ته دوام ورکړي. نوموړي يو ځل بيا وويل چې د جګړې د دوام لپاره د طالبانو پلمې ختمې شوې دي. هغه زياته کړه چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي او له دې وروسته هېڅ داسې پلمه نه شته چې پر بنسټ يې طالبان د افغانانو پر وړاندې جګړې ته دوام ورکړي.

ولسمشر غني ټينګار وکړ چې له دې وروسته د ملي مسائلو په اړه پرېکړه د حکومت او افغانانو کار دی. هغه يو ځل بيا پر طالبانو تونډې نيوکې وکړې او ويې ويل چې که دوی افغانان وي، نو بايد د افغانانو د سولې غوښتنې ته لبيک ووايي او که نه نو هغوی چې د پردو په امر د افغانستان بربادي غواړي، ټول ولس به يې پر وړاندې ودرېږي.

## سيمهييز چارواکي: په هرات کې د سېلابونو راوتلو له کبله ۲۲ کسان مړه شوي



د هرات سيمهييز چارواکي وايي، چې د دغه ولايت په ادرسکن او اوبې ولسواليو کې د سېلابونو را وتلو له امله ۲۲ تنه مړه شوي دي. د هرات د والي وياند جيلاني فرهاد وايي چې په ادرسکن ولسوالۍ کې د ورمې شپې سېلابونو له امله پنځه نارينه، يوه ښځه او څلور ماشومان مړه شوي دي.

هغه زياته کړې چې له اوبو څخه د دوو ناپېژانو کسانو جسدونه هم ايستل شوي او اوسمهال د هرات ولايت روغتون ته لېږدول شوي دي. د فرهاد په وينا، د هرات ولايت په اوبې ولسوالۍ کې هم ۱۰ تنه د باران او سېلابونو را وتلو له امله مړه شوي دي. د هرات والي وياند په وينا، د راوتلو سېلابونو له امله ۳۰۰ څاروي هم له منځه تللي دي.

فرهاد زياته کړې، چې د دې ترڅنګ د هرات ولايت په ځينو نورو ولسواليو کې هم تر بارانونو وروسته سېلابونه را وتلي چې له امله کروندګرو ته هم مالي زيانونه اوښتي دي.

د هرات د چارواکو په وينا، سېلاب خپلو سيمو ته د مرستې رسېدو په موخه کمېټه رامنځته شوې ده. بلخوا د هوا پېژندنې ملي اداري د هرات په ګډون په ۲۶ ولايتونو کې د بارانونو او سېلابونو را وتلو اټکل کړی دی.

په دغو ولايتونو کې هرات، فراه، بادغيس، بدخشان، تخار، بغلان، غور، فارياب، سرپل، بلخ، سمنګان، بغلان، پنجشير، پروان، کاپيسا ،باميان، وردګ، لوګر، پکتيا، غزني، دايکنډي، پکتيکا، نورستان او د کابل په ګډون سالنګونه هم شامل دي. دې اداري ويلي، چې په يادو سيمو کې به د اورښت کچه د (۱۰ نه تر ۲۵) ملي مترو پورې اوري.

په ورته مهال د هرات سيمهييزو چارواکو ويلي، چې د سېلابونو له کبله بې ځايه شوي کسان په ناوړه وضعيت کې دي او پر مرکزي حکومت او مرستندويه ادارو يې غږ کړی چې ژر تر ژره دې له دغو خلکو سره د مرستې لپاره سيمې ته مرستاندويه ټيمو ولېږي.

---

# د ټرمپ اداري خلاف پرېکړه؛

## بايډن: د نړۍ ناوړه وضعيت ته په کتو، امريکا ته هر کال ۶۲ نيم زره کډوال راتلی شي



د امريکا ولسمشر جوبايډن د امريکا له خوا د کډوالو د منلو سهميه په کال کې ۶۲ نيم زره پورته کړه او ويې ويل، دا اقدام د دې لپاره مهم دی چې په نړۍ کې د هغو کډوالو چې ډېر کړېدلي او غواړي په يوه امن ځای کې نوی ژوند پيل کړي، په ذهنونو کې شکونه لېرې کړي.

جو بايډن په سپينه ماڼۍ کې په دې اړه د يوې بېړنۍ پرېکړې د لاسليک کولو پر مهال وويل، دا مهمه ده چې دغه اقدام نن وشي، څو په نړۍ کې د هغو کډوالو چې ډېر ځورېدلي او په ډېرې لېوالتيا دي ته په تمه دي چې يو نوی ژوند پيل کړي، له ذهنونو شکونه لېرې شي.

بايډن ويلي، دا هم مهمه ده چې متحده ايالتونه وښيي چې د ډېرو زيانمنونکو خلکو خونديتوب ته ژمن او په نړۍ کې د ازادۍ مشال او پناه ځای په توګه درېدلی دی.

د بايډن د دغې پرېکړې له مخې به متحده ايالتونه په کال کې ۶۲ نيم زره کډوال رسماً مني. پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ دغه اندازه په کال کې ۱۵ زره کډوالو ته راټيټه کړې وه.

پر بايډن له دې مخکې نيوکه شوې وه چې په دې برخه کې يې خپله ژمنه نه ده پر ځای کړې، په تېره بيا پر هغه نيوکې وروسته له هغې زياتې شوې چې تېره مياشت يې د يوه فرمان په لاسليک کولو سره د متحدو ايالتونو له خوا د کډوالو د منلو هماغه پخوانی د ۱۵ زره کډوالو حد په خپل حال پرېښود.

سپينې ماڼۍ د نيوکو په ځواب کې په يوه اعلاميه کې ويلي، چې په دې اړه ځينې مسايل ګونګ وو، خو بايډن به د مې تر۱۵مې نېټې پورې د کډوالو سهميه پورته يوسي.

بايډن ويلي چې ده نوي معلومات ترلاسه کړي چې پر اساس يې دغه نوی بېړنی فرمان لاسليک کوي. د سپينې ماڼۍ له خوا د خپرې شوې اعلاميې له مخې، بايډن ويلي چې دی په دغه اقدام سره د کډوالو لپاره هغه د ۱۵ زره کډوالو تر ټولو ټيټ حد چې پخوانۍ اداري ټاکلی و، له منځه وړي هغه چې د ده په وينا، کډوالو ته د ښه راغلاست او د هغوی د ملاتړ برخه کې يې د امريکا ارزښتونه نه منعکس کول.


خو بايډن دا هم ويلي چې ښايي امريکا په روان مالي کال چې په سپټمبر کې پای ته رسېږي، د کرونا د وبا او د کډوالو لپاره د ځای پرځای کېدو د امکاناتو د نشتوالي له امله په دغه نوي حد کډوال ونه شي منلی، خو د هغه د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن ويلي چې په دې برخه کې ډېر کارونه پيل شوي چې د کډوالو د منلو لپاره امکانات زيات شي، څو دوی وکولی شي د دغې نوې سهيمې له مخې هر څومره ډېر کډوال ومنلی شي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سپنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### شپږمه برخه
### نوې لویه لوبه




دولت: خو لکه تاسې چې وويل، لومړی قرباني جنرال محمود و. امريکايانو وويل هغه بد خبر دی او په سر ويشتل شوی دی.
دورانی: هو بيخي سمه ده.
سپنها: ټرمپ به له طالبانو سره کومه معامله وکړي؟
دورانی: متيس دې ټکي ته متوجې دی او له لسو کلونو راهيسې پر پاکستان او طالبانو فشارونه راوړي. دوی به هڅه وکړي چې يوه داسې لار ومومي چې ووايي موږ طالبانو ته نه يو تسليم شوي.
دولت: امريکايان له طالبانو سره خبرې کوي؟
دورانی: هو، هر وخت.
دولت: که ټرمپ فکر کوي چې له طالبانو سره خبرې سمه پاليسي ده، نو لکه کوونکی به ووايي: راځه خپله معامله وکړه. هغوی څه غواړي او موږ څه غواړو؟
سپنها: هغه يې په اسانه لکه معامله گر خرڅولی شي.
دولت: ټرمپ خپل ځان ته د يو معامله گر په سترگه گوري، په سر کې ما داسې انگېرله، چې دا معامله به يې د چا لخوا ترسره شي، د جنرالانو او که د لور او زوم لخوا؟ که ستا زوم ستا سلاکار وي، د هغې گټې او ستونزې شته، خو په دې پورې اړه لري چې هغه څنگه پايله ورکوي.
دورانی: زه داسې څوک نه پېژنم چې معامله نه کوي. ان پاکستانيان هم معامله کوي.
دولت: ان اسرائيليان هم، څوک معامله نه کوي.
دورانی: ټرمپ د يوه معامله گر په توگه غواړي چې په تجارتي بڼه معامله وکړي، خو دا معاملې تجارتي نه دي. په دې کې بايد جدي خبرې وشي، عامه گواښونه وڅېړل شي او د نورو پيغامونه واورېدل شي.
دولت: د امريکا لپاره دا آسانه ده چې پاکستان وجنگوي، ځکه څه چې هغوی وغواړي تاسې يې کوئ.
موږ به دغه جنگول د خپلې پاليسۍ کاميابي گڼو، چې امريکايان مو اړ ايستل څو مداخله وکړي. خو واقعيت دا دی چې جنگول، جنگول دي.
دورانی: له(۱۱/۹) وروسته موږ غوښتل چې د دوی په خوښه هر څه وکړو، خو هېڅ مو سم و نه مونډل. دوی ډېر نور څه غوښتل، ان که به زموږ د ملي گټو ضد او له وړتياوو څخه پورته هم وو. خو هنديان به يو سمبوليک خوځښت هم و نه کړي. په هند به د امريکا له خوا هېڅ فشار رانه وړل شي.
دولت: که پاکستان جنگول کېږي، نو منطقي خو دا ده چې هند به جنگول کېږي. پاکستان به وايي: دا څه خبره ده، تاسې ولې هنديانو ته نه واياست؟ تاسې گورئ چې هغوی په کشمير کې څه کوي. تاسې ولې موږ ملامتوئ؟ که تاوتريخوالی زيات شي، دوی به وايي چې هر څه د هند په کنټرول کې دي او دوی له هېچا سره خبرې اترې نه کوي. دوی د هغو له مخې چې له تاسې سره يې لري، فکر کوي چې له هر څه بېل دي.
سپنها: د امريکايانو رول يا گټې به په کشمير کې څه وي؟
دورانی: دوی په هره ممکنه سيمه کې خپلې گټې پلټي، خو ددوی وړتيا د کشمير په مرسته کې محدوده ده. اول دوی هېڅ نه شي کولای. دوی پر پاکستان په فشار راوړلو کې هر کله ناکام دي. دوی هند نشي اړ ايستلی چې هغه څه وکړي چې هند يې نه غواړي. دويم دا که خدای ناخواسته موږ په جگړه کې ښکېل شو او دا ومنو چې امريکايان د جگړې مرستندوی دي. دوی به خامخا د هند ترڅنگ وي.
دولت: امريکايان چې هرڅه گټه په کشمير کې لري، لري يې. دوی په (۱۹۹۰) يمه لسيزه کې ډېر زيات کشمير ته تلل راتلل او له(۱۱/۹)وروسته بند شول. دا د لوبې بدلون و، هغو امريکايان شکمن کړل. حتی د تروريزم اړوند سفرونه هم بدل شول.آزادي غوښتونکي جنگيالي تروريستان شول. په نوي ډيلي کې د امريکا سفير ټولو ته وويل چې نور بايد سرينگر ته تگ را تگ بند شي. هماغه سفير او د هغې ځايناستي په يوه بېړۍ کې د شبير شاه سره غرمنۍ وکړه او هغه يې له زندانه خوشي کړ.
زما يوازينی توپير له جنرال صېب سره دا دی چې ما له کشميريانو اورېدلي: امريکايان د دې وړتيا لري چې پر پاکستان فشار راوړي، خو دا به يوه غلطه وړاندوېينه وي. زه به په ټوله که ووايم، چې دواړه هند او پاکستان د جدي فشار راوړلو له کچې پورته دي.
دورانی: په هر حال موږ بايد په ياد ولرو، که چېرې موږ بهرنيو ته بلنه ورکوو، چې راشي او زموږ ستونزه هواره کړي، د جوړجاړي پايله به خامخا د هغوی په خوښه او بڼه وي. د بيزو دا بڼه کيسه په ياد ساتئ، چې دوو جنگېدونکو پيشوگانو د پنير د وېش لپاره وروبلله. هغه د وېش په ځای پنير ټول خپله وخوړ.
دولت: زه موافق يم، امريکايان خوښ دي چې د هند او پاکستان تر منځ دا شخړې رواني وي. تر ټولو مثبته بڼه همدا ده چې دواړه هند او پاکستان په گډه د سم لوري په اړه فکر وکړي. او زما خوښه شوه چې جنرال صېب وويل چې هغه به زموږ په بڼه وي.
دورانی: څوک بايد د هنري کسينجر دا مشهوره وينا له ياده ونه باسي چې: له امريکا سره دښمني خطرناکه ده، خو له هغوی سره ملگرتيا هم مرگونې ده. د مشرف، صدام، مبارک او د ايران له شاه سره دا هرڅه ثابت شوي دي او همداسې به روان وي.آن په پخوا وختونو کې له اروپايانو سره هم داسې عمل شوی دی.
**دوام لري...**

# امريکا، طالبان او جگړه د افغانانو له نظره

◀ اکسوس کتابپلورنځی




دا کتاب د هغو کتبه گوريو په اړه دی، چې خلکو رامنځ ته کړې او باور پرې لري. دومره قوي باور او عقيده چې ځينې وخت د کلمې واقعي مانا د ژوند او مرگ پر موضوع بدلېږي.
د کتاب ليکوال وايي، کله چې د سپټمبر د يوولسمې پېښه رامنځ ته شوه، زه په ښکتنۍ منهاټن کې وم او هغه ورځ ښکارېده چې نړۍ به خپل ځايونه په وحشيانه او ښو څرگندو کته گوريو وويشي. له يوه لوري دلته يوه ډله کسان وو، چې وحشت يې کاوه. دوی ته يې ترهگر ويل چې انگېزه يې نه درک کېده او موږ يوازې کولای شو هماغسې چې ولسمشر جورج ډبليو بوش ويل، دوی شريران وبولو. له بل لوري، په هغې ښې کته گورۍ کې چې موږ وو، د ازادۍ له ښه ژوند او روښانه راتلونکي څخه زيات څه مو نه غوښتل. دا له ترهگرۍ سره د جگړې فرضيه او په ځانگړي ډول پر افغانستان د برید لپاره پرانيستې بهانه وه. نور تاسې يا له موږ سره ياست يا زموږ پر ضد ياست؛ هغه اصول چې د امريکا متحده ايالاتونو ته يې اجازه ورکړه چې د جگړې په لړې او يو ناآشنا ډگر کې ځان ته له دښمنانو څخه ملگري انتخاب کړي. دې تگلارې د يو څو کلونو لپاره کار ورکړ او هېواد په سوله کې و؛ سړکونه پاخه وو، ښوونځي پرانيستي وو او د دې هېواد په تاريخ کې لومړی ځل خلکو په بشپړو ډيموکراټيکو ټاکنو کې برخه واخيسته.
ډېر وخت نه و تېر شوی چې هرڅه بيرته خراب شول. په ۲۰۰۸ ز کال کې چې زه د يو خبريال په توگه افغانستان ته لاړم، وضعيت له وړاندې له کنټروله وتلی و. د امريکايانو پر ضد وسله والو نفوذ پيدا کړی و او د هېواد ډېرې سيمې د جگړې پر ډگر اوښتې وې.
بمبارونو، ځانمرگو بريدونو او د سړک غاړې ماين چاودنې زرگونه کسان وژلي وو. د ۴۳ هيوادونو د عسکرو ماموريت دا و چې دې هېواد ته ثبات راوړي، ملي اردو، د پوليسو ځواک او عدلي سيستم جوړ کړي. تر کلونو هڅو وروسته هم اردو کمزروې وه، پوليس لوټمار بلل کېدل او عدلي سيستم نږدې هېڅ نه و. د امريکا پرېمانه پيسو او ځواکونو يوڅه ارامي رامنځ ته کړې وه، خو د پخوانيو کلونو راټوکېدلې هيلې مړاوې شوې وې.
څه پېښ شول؟ ما د خپلو پوښتنو لپاره د ځوابونو موندلو ته څلور کاله افغانستان ته سفرونه وکړل. د افغانستان ډېره برخه د بهرنيانو لپاره خوندي نه وه، زه مجبور وم چې ځان له وضعيت سره برابر کړم، ما ژبه زده کړه، ږيره مې پرېښوده او په سړک به لکه د عامو خلکو په څېر گرځېدم. د ترانسپورت لپاره مې له عادي موټرو او موټرسايکلونو استفاده کوله. دې هرڅه زما له وړاندې ټاکل شوی ليدلوری او کته گوري رابدله کړه. کله چې ما دغه څه له يو افغان خبريال سره شريک کړل، هغه په ځواب کې راته وويل: «دلته په ژونديو کې ښه او په مړو کې بد سړی نشته.»
دا کتاب په ټوله کې د افغان جگړې لپاره د امريکا د ټاکل شوې کته گورۍ؛ زموږ متحدين، زموږ دښمنان او بې طرفه خلک، تحليل او ارزونه ده چې د راپورتاژ په ژانر کې په افغانستان کې د نيويارک ټايمز خبريال انند گوپال ليکلی دی. په ژونديو کې ښه سړی نشته کتاب د ژورنالېزم په برخه کې د امريکا معتبرې جايزې (پوليټزر) ته هم کانديد و. دغه جايزه په نيويارک سيټي کې د کولمبيا پوهنتون لخوا هر کال چاپي خپرونو، ادبياتو او د موسيقۍ په برخه کې غوره اثارو ته ورکول کېږي. په ژونديو کې ښه سړی نشته، پښتو ژبې ته حزب الله اتل ژباړلی او بيت الحکمه خپرندويه ټولنې خپور کړی دی.
مينه وال کولای شي ياد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو هم په مناسب قيمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اداره و مديريت | محمد بشير بهرامی | ۲۳۰ؤ |
| ۲ | د نړۍ ادب | اجمل ښکلی | ۲۰۰ؤ |
| ۳ | عرفاني ادبيات | الکوزی تايب | ۱۱۰ؤ |
| ٤ | معاصره ليکوالي | احمدشاه زغم | ۳۵۰ؤ |
| ٥ | ادبي فنون (بيان برخه) | محمد آقا شيرزاد | ۱۵۰ؤ |
| ٦ | پښتو گرامر(فونولوژي) | محمد آقا شيرزاد | ۱۳۰ؤ |
| ۷ | پښتو نحوه (نوې کتنه او څېړنه) | محمد آقا شيرزاد | ۲۳۰ؤ |
| ۸ | پښتو تطبيقي غونډله پوهه(نحوه) | محمد آقا شيرزاد | ۲۳۰ؤ |
| ۹ | ليکوالي | محمد آقا شيرزاد | ۲۳۰ؤ |
| ۱۰ | د بابل خان | جورج اس . کلاسن / جبار فراز | ۱۳۰ؤ |
| ۱۱ | د کرنيز کاروبار منجمېنټ | فريډي برنارډ ، جی اکرجی ،کرنک ډوولي او جوهن فولتر/محمود مهروول | ۲۲۰ؤ |
| ۱۲ | د ژبپوهنې بنسټونه | محمودمرهون | ۸۰ؤ |
| ۱۳ | تاريخي ژبپوهنه | محمود مرهون | ۳۵۰ؤ |
| ١٤ | د منځنۍ دورې منتخب منظوم متون | مکمل الکوزی | ۲۰۰ؤ |
| ۱٥ | دژبپوهنې مبادي | ميراجان غوربندی | ۱۸۰ؤ |
| ۱٦ | حقوق بين الملل خصوصی | ميراخان قضاوی | ۲٤۰ؤ |
| ۱۷ | د پښتو ژبې تاريخ | ميراجان غوربندی | ۱۳۰ؤ |
| ۱۸ | د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ (وېښتيا پړاو) | بريالی باجوړی | ۳۰۰ؤ |
| ۱۹ | پښتو فولکلوري ادبيات | لعل پاچا ازمون | ۱۷۰ؤ |
| ۲۰ | د شعر ښکلاييزو اړخونو ارزونه | ضيا الرحمن حسرت | ۱٥۰ؤ |
| ۲۱ | ادب تيوري (دويم چاپ) | لعل پاچا ازمون | ۳٥۰ؤ |
| ۲۲ | د کره کتنې بهير | لعل پاچا ازمون | ۱۰۰ؤ |
| ۲۳ | د ادبپوهنې بنسټونه | محمد رفيق رفيق | ۲۳۰ؤ |
| ۲٤ | حقوق عينی | غفور احمد غزنوی | ۲۷۰ؤ |
| ۲٥ | اړخونه سرليکونه | عصمت الله صالح | ۱۰۰ؤ |
| ۲٦ | د بريا اصول | جېک کېنفلډ/طارق تسل | ۱٥۰ؤ |
| ۲۷ | ذهنيت‌جوړوونکې کيسې | حضرت عثمان نوري | ۱۰۰ؤ |
| ۲۸ | د ژبې ارواپوهنه | نبي ستوری | ۱٥۰ؤ |
| ۲۹ | روڼ اندی ځوان | عبدالوهاب مومند | ٦۰ؤ |
| ۳۰ | د کاروبار پيل | حکمت الله نظري | ۱۰۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۷ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۰۶۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۵ |

## بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# ایا پوهېږی چې څه مو محدودوي؟

ژباړه: امان الله حنیفي

تقریباً دا ډېر وخت مې د (وړتیاوو) موضوع په ذهن کې ځای نیولی دی. کله چې د ځوانۍ مرحلې ته ورسېدم، دا موضوع هغه وخت راته چنداني مهمه نه وه. په ماشومتوب کې به مې دا موضوع ډېره خوښېده: «هغه کوچنی ماشین چې ډېر ډېر کارونه به یې کول». مور به مې ډېر وخت د دې ماشین کیسې راته کولې. زما دا ډېره خوښېده چې دې کوچني ماشین پر ځان پوره باور درلود او د همدې باور پر اساس یې ډېر لوی لوی کارونه تر سره کول. د هغه وړتیا هغه وخت لا پیاوړې شوه کله یې چې پر خپلو محدودیتونو برلاسی شو.

هغه بېلګې چې پلار به مې دا وختونه راته بیانولې، لا اوس مې هم په یاد دي. یو زوړ ماهي نیوونکي یې خپل زوی ولید چې ماهیان نیسي، هغه د خپل زوی خوا ته لاړ څو ویني چې زوی یې څنګه ماهیان نیسي. زوی یې له دې مخکې دوه ماهیان نیولي وو، خو کله یې چې پلار خوا ته ورغی، هغه بل لوی ماهی هم ونیو. هغه د ماهیانو په نیولو لګیا وو چې پلار یې ورته وویل: «څومره ښه!» خو زوی یې ماهی بیرته د اوبو منځ ته واچاوه. پلار یې وویل: «ولې دې داسې وکړل؟ هغه تر ټولو ښه ماهی و.» زوی یې وویل: «هو، هغه تر ټولو ښه ماهی و، خو زه یوازې هغه ماهیان نیسم چې ۳۰ سانتي متره وي.»

ما به ډېری وخت د دې کیسې په اورېدو خندل او ویل به مې چې رښتیا چې د انسان د فکر ډول هغه څنګه محدودوي. دې ته ورته د دریو شاګردانو کیسه مې لا هم په یاد ده چې په ښوونځي کې به استاد راته کوله. دا درې ماشومان به هره ورځ د یو لوی دیواله تر لاندې ښوونځي ته تلل، هغوی به هره ورځ په دې اړه چې د دیواله تر شا به څه وي، له یو بل سره خبرې کولې. بالاخره یوه ورځ له هغوی یوه یې دا زړه وکړ او دوو نورو ته یې وویل راځئ چې وګورو د دیواله شا ته څه دي. نورو هم ورسر ومنله او خپلې خولۍ یې د دیواله شا ته ورغورځار کړې او وویل، اوس به په دې بهانه د هغه جګ دیواله سر ته ورپورته شو او وبه ګورو چې د هغه شا ته څه دي. دوی خولۍ د دیواله سر ته ورغورځار کړې او د هغه سر ته په ختو یې پیل وکړ. هغوی غوښتل خپله ویني چې هلته څه دي، نه دا چې بل څوک یې کیسه ورته وکړي. اوس هم راته ښه یاد دي کله به چې ښوونکي دا کیسه کوله، ما به هم له ځام سره فکر کاوه چې زه هم باید خپله خولۍ د هغه دیواله سر ته ورغورځار کړم او خپله ووینم چې هلته څه دي. غوښتل مې نویو ځایونو ته لاړ شم، نوي څه پیدا کړم او ځان د هغو کارونو تر سره کولو ته چمتو کړم، چې زه یې په اړه تصور هم نه کوم. اوس هم دا کار کوم. څو څو ځلې نه، بیخي زیات وخت له ځان سره خپله خولۍ د هغه دیواله سر ته ورغورځار کړم او ځان دې ته مجبور کړم چې د هغه د را اخیستو لپاره د هغه سر ته وخېژم او ووینم چې هلته نوي څه دي.

اوس له تاسې هم غواړم چې خپله خولۍ مو د هغه دیواله سر ته ورغورځار کړئ، چې د بیا را اخیستو لپاره یې مجبور شی چې د هغه سر ته وخېژی، څو هلته د دیوال تر شا شته ځیزونه خپله وویني نه دا چې بل څوک یې کیسه درته وکړي.

هدف مو دا دی څو تاسې هم د هغه کوچني ماشین په څېر پر ځان باور پیدا کړی. غواړو له دې لارې ستاسې پر ځمکه پرتې وړتیاوې د هغه دیواله سر ته ورغورځار کړو، چې د بیا را اخیستو لپاره یې مجبور شی د هغه سر ته وخېژی. غواړو له همدې لارې ستاسې په ذهن کې یوازې د ۳۰ سانتي متره اوږده ماهي د نیولو موخه له منځه یوسو او پر ځای یې تاسې د یو لوی ماهي نیولو ته چمتو کړو. له تاسې غواړو چې خپلې خولۍ مو د هغه دیواله سر ته ورغورځار کړئ، وړتیاوې مو ونګوئ او ژوند مو بدل کړئ. ایا غواړی چې همدا کار وکړی؟ که همداسې وي، دا مو په یاد اوسه چې دا سفر به په پوره اګاهۍ سره پیلوئ.

### ستاسې وړتیاوې مشخصې او تنظیم شوې نه دي

که تاسې هم د ډېرو نورو کسانو په څېر وی، باوري یم چې د دې پر ځای چې په همدا اوس کې ژوند وکړی او یوځه تجربه کړی، تاسې مخکې له مخکې ژوند پرې اېښی. ممکن همدا اوس د خپلې خوښې وړ ژوند ونه لری، یا لږ تر لږ د هغه ۵۰ سلنه امکانات هم نه وي درته برابر شوي. ممکن له خپل پرمختګ ناخوښ وی. ایا ټول هغه کارونه چې غواړی یې؛ سر ته یې رسوی؟ ایا غواړی چې ډېر څه ولری؟ که زما په څېر وی، حتماً به غواړی چې له دې ډېر څه ولری. زه همدا اوس په ۷۰ کلنۍ کې هم پر خپلو شته امکاناتو راضي نه یم او ډېر څه مې لا په زړه کې شته چې باید لاسته یې راوړم.

تاسې د ژوند لپاره کوم مسیر ټاکلی؟ څه ستاسې مخنیوی کوي؟ پوهېږی؟ که نه پوهېږی هغه څه دي چې ستاسې د پرمختګ مخنیوی کوي؟ څنګه کولای شي هغه له منځه یوسی یا پر هغه برلاسي شی؟ حتماً مو اورېدلي دي چې وایي: «که غواړی چې یو کار تر سره شي هغه کس ته یې د سرته رسولو مسوولیت وسپارئ، چې ډېر مصروف وي.» ممکن دا خبره یوڅه درته نااشنا ښکاره شوې وي، خو کاملاً دا خبره سمه او پر ځای ده. هغه کسان چې ډېر کارونه کوي، د دې وړتیا هم لري چې د هغه ترڅنګ یا په فارغ وخت کې ځینې نور کارونه هم تر سره کړي. ولې داسې ده؟ داسې خو به نه وي چې د ځینو انسانانو وړتیاوې او ظرفیت تر ځینو نورو لوړ وي؟؟ ایا تر اوسه مو د خپلو وړتیاوو په اړه ښه ژور فکر کړی؟

ډېری کسان فکر کوي چې د وړتیاوو سطحه یې محدوده ده. تاسې څنګه یاست؟ همداسې فکر خو به نه کوی؟ دا مو اورېدلي ده چې د ځینو انسانانو د وړتیاوو سطحه لوړه او د ځینو بیا ټیټه ده؟ ستاسې وړتیاوې په کومه سطحه کې دي؟ لوړې، متوسطې او که ټیټې؟ ایا دا باور لری چې د هر چا د وړتیاوو سطحه مشخصه او ټاکل شوې ده؟ ممکن تر اوسه مو د خپلو وړتیاوو د سطحې نوم نه وي ټاکلی، خو ممکن داسې تصور وکړی چې ستاسې لپاره ټاکل شوې وړتیاوې او ظرفیت مو په ثبوت رسولي دي. څومره بد فکر مو کړی.

ډېری کسان چې د وړتیاوو کلمه اوري، فکر کوي چې دا تر یوه حده محدوده کلمه ده. هغوی فکر کوي چې د وړتیاوو سطحه یې ټاکل شوې او په ثبات رسېدلې ده. خصوصاً دا فکر بیا هغه کسان ډېر کوي چې عمر یې یوڅه تېر شوی وي. ډېری کسان پر دې اصلاً باور نه لري چې دوی کولای شي د خپلو وړتیاوو سطحه لوړه او خپلې پیاوړې نقطې لا پیاوړې کړي. ښه خبره دا ده چې په ټوله مانا د هغه څه د لاسته راوړلو لپاره هڅه وکړئ، چې تاسې یې په اړه تصور کوی.

دا ډول فکر یا تصور درلودل د ډېرو بریالیو کسان طرز دی. روبرتوورزولا وایي، ډېری اقتصادپوهان دا ډول فکر چې د هر چا وړتیاوې محدودې دي. هغوی دا هڅه کوي چې هرڅوک پر دې قانع کړي چې ځان له همدې محدودو وړتیاوو سره جوړ راولي. ورزولا وایي، په اقتصاد کې لومړۍ فرضیه د کمیابۍ ده. او همدا فرضیه تر حد زیات د خلکو پر ذهن اغېز لري. ډېری اقتصادپوهان هم دې دا ډول وضعیتونو د کنټرول وړتیا نه لري، هغوی له دې وضعیته د وتو ډېرې لارې نه لري، هغه ده چې د حل لپاره یې د کمیابۍ فرضیه رامخ ته کوي. یا په بله وینا، هغوی د انسانانو باورونه او وړتیاوې محدودوي؛ خو موږ د هغه پر ځای خپل ځان او وړتیاوې له هغو امکاناتو سره تعریفوو، چې له وسه مو پوره او له پرله‌پسې هڅې وروسته ورته رسېدای شو. موږ سل په سلو کې پر دې باور لرو چې هر انسان باالقوه پیاوړې وړتیاوې لري او له هغه د ګټې اخیستنې په نتیجه کې خپلو ټولو موخو ته رسېدای شي. خو پر دې هم باور لرو چې موږ هر یو خولۍ لرو او د خپلو وړتیاوو د لیدو لپاره باید هغه د دیواله سر ته ورغورځار کړو. رښتیا، موږ یو داسې چا ته اړتیا لرو څو دا راوښیي چې څنګه خولۍ د دیواله سرته ورغورځار کړو. هغوی چې خولۍ د دغه دیواله سر ته ورغورځاروي، ډېری یې هلته نه بندېږي، کمې داسې وي چې هلته بندې شي او بیا یې څښتن مجبور دی چې د بیا را اخیستو لپاره د دیواله سر ته پورته شي. موږ باید د هغو کسانو له ډلې نه وو چې همدا خولۍ مو وړتیاوې تعریف کړي، ښه ده چې د هغه له غورځارولو مخکې د خپلو وړتیاوو په اړه حد اقل یوڅه درک ولرو او پوه شو چې تر کومې ارتفاع موږ کولای شو خپله خولۍ پورته غورځار کړو.



## پنټاګون: افغان هوايي ځواکونه لاهم د قراردادیانو په ملاتړ متکي دي

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون وایي، افغان هوايي ځواکونه لاهم د قراردادیانو په ملاتړ متکي دي.

د پنټاګون ویاند جان کربي خبریالانو ته ویلي، چې د افغانستان امنیتي ځواکونه په ځانګړې توګه د افغانستان هوايي ځواک، د قراردادیانو ملاتړ ته اړتیا لري او د متحده ایالتونو همکاري به له دغو ځواکونو سره په غیر ملموس ډول دوام وکړي.

کربي د خبریالانو د پوښتنو په ځواب کې ویلي: «لکه څنګه چې موږ وویل، د دوی څخه ځیني په ځانګړې توګه هوايي ځواک، د قراردادیانو ملاتړ باندې تکیه کوي او ځیني قراردادونه لاهم په هغه هېواد کې ترسره کېږي، مګر دا قراردادونه به متفاوت وي، د هغو په پرتله چې اوس شتون لري.»

نوموړي زیاته کړې چې امریکایي سرتېري به نور په افغانستان کې حضور ونه‌لري او له افغانستان څخه به د متحده ایالتونو ملاتړ تر ډېره په مالي برخه کې وي. کربي ټینګار کړی چې دغه مرستې به د اوسنیو مرستو په پرته غیر ملموسې وي.



دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان هوايي ځواک د دغه هېواد له مهمو پوځي برخو شمېرل کېږي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره یې په اړه اندېښنې مطرح کېږي.

له افغانستان د بهرنیو ځواکونو په وتلو او له افغان هوايي ځواک څخه د امریکا د ملاتړ د څرنګوالي په بدلون سره اوس دغه ځواک له نوي ازمایښت سره مخ دی.

که څه هم د ملي دفاع وزارت د ورځنیو هوايي بریدونو په اړه ارقام نه‌وړاندې کوي، خو چارواکي وایي چې دوی د دولتي ځواکونو په ملاتړ هره ورځ تر ۶۰ پورې ټرانسپورټي الوتنې ترسره کوي.

د یادونې ده چې د افغانستان هوايي ځواک په ۲۰۰۷ز کال کې د امریکا او ناټو په مرسته بیا جوړ شو، چې دا مهال د افغانستان د پېچلې جګړې دروند پېټی د دغو ځواکونو پر اوږو پروت دی.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د غويي ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د مي پنځمه | ۷۱۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

چهارشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۱۵
د سهار اذان ۰۳:۲۳ د ماښام اذان ۰۶:٤٦
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۲ | ۲۹ | ۲۸ | ۲۸ | ۲۸ |
| ۱۲ | ۱۵ | ۱۷ | ۱۹ | ۲۰ | ۱۸ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰۵:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۴:۴۱ | ماښام ۰۶:۴۶ | ماخوستن ۰۸:۱۰

## نړۍ



د ټرمپ اداري خلاف پرېکړه؛
بایډن: د نړۍ ناوړه وضعیت ته په کتو، امریکا ته هر کال ٦٢ نیم زره کډوال راتلی شي
۳

### تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر درې میلیونه او ۲۳۰زره او ۳۵۵ ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۵۴میلیونه او ۴۲۰ زره او ۹۰۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۲۳۰زره او ۳۵۵ کسان مړه شوي او نږدې ۱۳۲ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳میلیونه او ۲۳۱زره او ۹۷۱ ته رسېدلې او ۵۹۱ زره او ۵۴۴نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۰میلیونه او ۴۰۰ زره او ۸۵۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۷۹۱زره او ۴۳۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دربیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦٥٦ زره او ۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د څلور میلیونه او ۹۰۰ زره او ۱۲۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، بریټانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

راپورونه:
### د امریکا دفاع وزیر د اسیا په مهمه امنیتي غونډه کې ګډون کوي

د امریکا د متحده ایالتونو دفاع وزیر لویډ اسټن په راتلونکې میاشت کې د اسیا په امنیتي غونډه کې چې په سنګاپور کې ترسره کېږي، ګډون کوي. د اسیا د امنیت سرمشریزه کلنۍ غونډه تېر کال د کرونا وبا له کبله لغوه شوې وه.

د روان کال غونډه چې د ستراتېژیکو څېړنو د نړیوال انستیتوت له خوا یې ترتیبات نیول شوي، ټاکل شوې د جون د میاشتې په څلورمه او پنځمه نېټه جوړه شي. د شنګریلا دیالوګ په نامه د اسیا د امنیت په دې غونډه کې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه لوړپوړي پوځي مشران، ډیپلوماتان او د وسلو ستر جوړوونکي شرکتونه ګډون کوي. دا غونډه له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې هر کال جوړېږي. د امریکا د دفاع وزیر په روانه اونۍ کې د پالیسۍ په هکله په خپله لومړنۍ وینا کې وویل، چې د امریکا متحده ایالتونه اړ دي هغو راتلونکو احتمالي شخړو ته چمتووالی ولري، چې د پخوانیو جګړو په څېر نه دي او له اوږدې مودې راهیسې یې پنتاګون مشغول کړی دی.

اسټن په خپله وینا کې د ټکنالوژیکو پرمختګونو نه د استفاده کولو او په بنه بنه د نړیوالو پوځي عملیاتو د همغږۍ غږ وکړ چې په وینا یې، ژر پوه شو، ژر تصمیم ونیسو او چټک عمل وکړو.

### نی: خشونت علیه خبرنگاران در یک سال گذشته ۲۳ درصد افزایش یافته است



نی یا نهاد حمایت‌کننده رسانه‌های آزاد افغانستان هم‌زمان با روز جهانی آزادی مطبوعات می‌گوید که خشونت علیه خبرنگاران در یک سال گذشته ۲۳ درصد افزایش یافته است.

مجیب خلوتگر، رئیس اجرایی نی، دیروز در یک نشست خبری گفت که از سوم می سال ۲۰۲۰ تا سوم می سال ۲۰۲۱ میلادی ۱۱۳ مورد خشونت علیه خبرنگاران به ثبت رسیده است. او افزود که این خشونت‌ها شامل ١٦ مورد قتل، ۱۵ مورد جراحت، ١٦ مورد لت‌وکوب، ۴۸ مورد توهین و تحقیر، سه مورد اختطاف، هفت مورد سوءقصد، چهار مورد بازداشت و دو مورد حمله به اعضای خانواده خبرنگار می‌شود.


رئیس اجرای نی خاطرنشان کرد که آمار قتل خبرنگاران در یک سال اخیر به مراتب افزایش یافته است. او گفت که در یک سال اخیر ١٦ مورد قتل خبرنگاران صورت گرفته است، در حالی که این رقم در سال ۲۰۱۹ و ۲۰۲۰ میلادی هفت مورد بوده است.

خلوتگر گفت: «قتل‌ها در سال گذشته ۷ مورد بود، اما حالا ١٦ مورد است؛ به این معنا که ۲۲۸ درصد قتل خبرنگاران افزایش یافته است».

به این ترتیب او افزود که جراحت ۲۰ درصد کاهش داشته، اما لت‌وکوب، توهین و تحقیر افزایش چشم‌گیر داشته است.


## ژوند

### روژه او د وزن کنټرولول



د روژې په مبارکه میاشت کې ډېری کسان د روژې نیولو په سبب خپل وزن بایلي، خو په دې دوران کې د غوړو شیانو په استعمال سره کلیسټرول ډېرېږي، چې په اړه یې پوهېدل او بېرته یې خپل ځای ته راوستل اړین دي. روغتیایي کارپوهان وايي چې د روژې په مبارکه میاشت کې د خوراک او څښاک یو روټین یا رژیم جوړېږي او د دوه وخته خوراک او د ورځې د یوې لویې برخې ترمنځ هیڅ نه خورو، چې بیا د بدن اضافي کالوري ختمېږي، روغتیا ښه والی مومي او وزن کمېږي، خو ځینې تېروتنې داسې وي چې روغتیا مو خرابوي. د روژې په میاشت کې په هر کور کې د غوړو غذایي توکو، غوښې، هګیو، شیدو، غوړو او کوچو استعمال ډېرېږي، چې په دې سره په روژه کې وزن کمېږي؛ خو ترڅنګ یې منفي کلیسټرول ډېرېږي چې باید پر وخت یې درملنه وشي، که نه، نو ډېرې نورې ستونزې راولاړوي.

### لېنوو د ګېمونو لپاره ځانګړی موبایل معرفي کړ



لېنوو کمپنۍ د ګېمونو لپاره ډېر غښتلي ځانګړنې او تر ټولو مختلف ډیزاین لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل لېنوو لیجن ډوول۲ (Lenovo Legion duel ۲) نومول شوی دی. پر دې سربېره، دغه ځیرک موبایل له اېچ ډي ار۱۰ څخه هم د ملاتړ وړتیا لري. سېلفي کامره هم د مخپاڼې پر ځای په ښي اړخ کې د پوپ اپ په ډیزاین پکې ځای پر ځای شوې او ۴۴ مېګاپکسله وړتیا لري. د دغه ځیرک موبایل په ټولو ځانګړنو کې ۲ بېټرۍ، ۲ یو اېس بي سي پورټ، دوې سرووونکې پکې، دوه لاینر موټرز او ۲ الټراسونک شولډ ټرېګرز شامل دي. دغه ځیرک موبایل دوې ۲۷۵۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري، چې له ٦٥ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي او دواړه یو اېس بي سي پورټس کارولو سره به د چارج سرعت ۹۰ واټ ته ورسېږي. د ۱۲ ګېګابایټ رم او ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه یې ۷۹۹ یورو او د ١٦ ګېګابایټ رم او ۵۱۲ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لرونکې بڼې بیه یې بیا ۹۹۹ یورو ټاکل شوې ده.

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.



عزیزی بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

www.azizibank.af 1515